مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لېوال

۲۰۲۶/۱۰/۱۱

# د خوځنده تصويرونو ښکلی هار



**د نامراد ځوانیمرګ شاعر و لیکوال طالب منګل اروا دې ښاد وي.**
**ځښتن دې ښه ورسره وکړي.**
**عجيب لوړ شعر يې ليکلی و، چې «د ګلونو الوداع» نومېد، راته ويې ويل: که يو يادښت ورته پرې وکاږم.**
**شعر مې خوښ شو، په تېره د دغه ښه شاعر د انځورپنځونې کمال راته لوړ وبرېښېد. لنډ يادښت مې ورولېږه،**
**ورته خوښ و. اروابناد منګل ادبياتو ته جدي ارزښت ورکړی و، هغه له ادبياتو سره مسخرې او ټوکې نه‌کولې.**
**د هغه د ياد په پار د اروابناد پر لوړ شعر دغه لنډ يادښت دلته خپروم:**



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ

## د خوځنده تصويرونو ښکلی هار

د پس موډېرني شاعرۍ يوه ځانګړنه د وييونو په مرسته د خوځنده تصويرونو د پنځولو هنر دی. په داسې شعر کې د شاعر ذهن د يوې ګرځنده کامرې کار ورکوي، چې د لوستونکي/ مخاطب سترګې و ذهن په ځان پسې راکاږي. دا کټ مټ لکه د خوځندښووني يا انيميشن Animation غوندې يو شمېر خيالي انځورونه يو په بل پسې داسې يو بهير جوړوي چې ننداره يې ښکلاييز خوند پنځوي. په داسې شاعرانه انځورجوړونه کې سېمبولونه او د هغوی ذهني چاپېريالونه (موقعيتونه) د تصويري ټولګو په توګه ليدوړ کيږي او د ذهني و عيني ځيزونو د ګډون يوه عجيبه ميناتوري د اېستيتيک ذهن مخې ته ږدي .

په روستيو ورځو کې ښاغلي طالب منګل خپل يو لوړ شعر راولېږه، چې د خوځندې انځورجوړونې يوه ښکلې ټولګه ده. ما ورته لوړ شعر نوم ورکړ. د لوړ شعر نوم به يوځه ناآشنا برېښي. خو ولې دغه نوم راته غوره وبرېښېد؟ کله چې د انګريزۍ ژبې نوموتي شاعر تي.اس اېليوت د « شنډه ځمکه The Waste Land» لوړ شعر خپور کړ، نو دغه شعر روسته کره کتونيکو Free Verse Modernist Long Poem يا نوی [موډېرنيست] لوړ ازاد شعر ونوماوه. ښايي پارسي ژبې ته به همدا اصطلاح د «شعر بلند» په مانا راغلی وي. دا د اوږدوالي له نظره تر عادي شعرونو اوږده شعرونه وي، خو نه په حماسي منظومو کې راځي او نه هم بشپړ داستاني رغښت لري، چې منظوم داستان يې وګڼلای شو. تردې وړاندې چې د ښاغلي منګل پر شعر بحث وکړم د اېليوت د «شنډه ځمکه» د پيل د يوې برخې ازاده ژباړه به راوړم:

اپرېل
ډېره بې‌رحمه مياشت ده
له مړې ځمکې نه
ګلونه راباسي
د ياد او هيلو تارونه سره ګډوي
وچې ريښې
د پسرلي په باران راپاروي
ژمي موږ تاوده ساتلو
ځمکه يې په هېروونکي واورو پوښلې وه
او
يو کوشنی ژوند يې
په وچو دانو روان کړی و
اوړي موږ ناڅاپه ګير کړو
او
د باران له څاڅکو سره
ودرېدو
د ستنو تر سيوري لاندې...

زموږ د ګران طالب منګل شعر د خپلو ټاکليو اټلانو يوه روايي ليکه پرمخ بيايي، خو زمان و مکان پکې مات دي او له دې نظر پس‌موډېرنيستي ځانګړني لري او په کلاسيکه مانا يوه داستاني منظومه نه‌ده. زموږ ځوان شاعر ډېر تمرکز پر شاعرانه انځورجوړونه لري، چې په لوی سر کې دغه انځورونه د نيکي او بدي يا خير و شر يوه هيجاني جګړه انځوروي. ښکاره خبره ده چې خير بريالی دی. ديوان او ښاپيرۍ، ګلان او غشي، هوسی او مرغۍ .
د منګل صاحب کمال د خوځنده انځورونو د زنځيري کړيو د لړۍ پسې اخيستل دي، چې په يوه پخه شاعرانه ساه يې تعقيبوي. زموږ د ذوق، تخيل او ذهن لاسونه نيسي او په ځان پسې مو راکاږي. د دغه خوځنده تصويرونو يوه عجيبه برخه دلته راوړم:

هغه ديو چې په مانۍ کې بنديوان و
ښاپېريو د واده جشن ته راوست
هرطرف نه پرې شغلې د عشق خورې شوې
له ديو ورو ورو
يو سور ګل د ميني جوړ شو


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په ځير و لولئ

د يو ستوري په توته يي
غلى کېښود
ستوري خپله رڼا تاو کړه
د سور ګل له شنه ډنډره
په ډنډر کې وې، ويالي د خوشبويانو
خوشبوياني شوې بدلې
سپينو واورو په څپولو
په څپولو کې وړې وړې داني وې
په دانو کې د يو مخ تصوير ځلا کړه
دا مخ سپين لکه نرګس و
په غومبورو يې د سرو رنګونو ډکې کاسې توی وې
زرڅې سترګې يې رانجو کې پرکېدلې
په خندا خندا يې شونډې ښوربدلې

ګورئ، چې دغه بېزمانه او بېمکانه تصويرجوړونه څنګه يوه په بله پسې رانوې کيږي او پرته له دې چې له تاسو د منطقي پوښتنو په راپنځولو لاره ورکه کړي، هيجان توليدوي. ديو مانۍ ته راځي او ناڅاپه په يوه ګل بدليږي. له ديو سره د سره ګل اړيکه يوه اساطيري مخينه لري . **(۱)**
بيا د ګل په ډنډر کې ننوځي او هلته يوه بله دونيا ده، د سور ګل په ډنډر کې د خوشبويانو ويالې رواني دي. د شعر په ځواک دا منطق د منلو دی. هلته ناڅاپه سپينې واورې په مخه درځي او بيا سپين مخ، نرګس او د مخ د ښکلا توصيف. د روسي فورماليستانو په ژبه دلته اشنايي‌تورنه Defamiliarization داسې فعال دی، چې د هيڅ يوه راتلونکي تصوير پيشبيني او انتظار نه‌لرئ. په دې توګه تاسو خپل ذهن د شاعر کوډو ته پرېږدئ، چې په يوه بهانده او سياله بڼه مو چېرته رسوي .
زه « د ګلونو مخه‌بڼه» لوړ شعر په پښتو معاصر ځوان شعري بهير يوه په زړه پورې زياتونه ګڼم او قدرمن طالب منګل ته د دغه ابتکاري شعر په ليکلو مبارکي وايم. باور لرم، چې په راتلونکي کې به د پښتو شعر په برخه کې د تصويرپنځونې، سيمبول‌کاروونې او د تمثيلونو هنري اوډنې په برخه کې د تحليل لپاره يو بېلګه‌يي شعر وي .
د پښتو شاعرۍ ورشو دې لا پسې سمسوره، رنګينه او له ګلونو ډکه وي .

درناوی
څېړنوال دکتور عبدالغفور لېوال
۲۰۲۶ مۍ پينځمه

---

**(۱) :** د Beauty and the Beast (ديو او ښايسته نجلۍ) په يوه مشهوره نړيواله کيسه کې لولو، چې هلته يو مغرور شهزاده د خپلې بد اخلاقۍ له امله په ديو بدليږي، او د هغه په مانۍ کې يو جادويي سور ګل وي چې د طلسم د ختمېدو نښه دی؛ که د ګل تولې پاڼې وغورځي، شهزاده به د تل لپاره ديو پاتې شي. يوه ورځ يوه مهربانه نجلۍ د خپل پلار د ژغورلو لپاره مانۍ ته ځي او هلته له ديو سره اوسيږي. د وخت په تېرېدو نجلۍ د ديو مهربانيويني او پرې ميينيږي. کله چې نجلۍ خپله رښتيني مينه ښکاره کوي، د سور ګل جادو بشپړيږي، طلسم ماتيږي او ديو بېرته په ښکلي شهزاده بدليږي.


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ